# ارګ پاڼه

د افغانستان اسلامي امارت
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

❖ د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | دریمه ګڼه | د چاپ نېټه: جمادي الاول ۱۰، کال ۱۴۴۳ هجري قمري ❖










**امنیت دیپلومات های خارجی در افغانستان تامین است و در آینده نیز تامین خواهد بود از اینرو کشور ها باید به جای انجام امور دیپلوماتیک از جا های دیگر، سفارت های خود را در افغانستان باز کنند.**

محترم الحاج ملا عبدالغنی برادر معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

## د ا.ا.ا. د ریاسة الوزراء سیاسي مرستیال د ترکیې له سفیر سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د ریاسة الوزرا سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر په افغانستان کې د ترکیې له سفیر جهاد ارګین سره وکتل. په دغه کتنه کې چې په سپیدار ماڼۍ کې ترسره شوه، د ترکیې سفیر وویل، موږ د سرې میاشتې له لورې افغان کډوالو او بېځایه شویو ته مرستې رسولې او د مرستو یاده لړۍ لا هم دوام لري.

نوموړي د تیکا مؤسسې د فعالیتونو د دوام په اړه د معلوماتو وړاندې کولو پر مهال وویل، ترکیه له کرنې وزارت سره د اصلاح شوي تخم مرسته کوي؛ همداراز به په کندهار او هرات ولایتونو او کجکي ولسوالۍ کې د هغو عمراني پروژو کار چې ترکیه یې تمویلوي، دوام وکړي. پاتې برخه...۳

**حکومت کنونی به عنوان یک حکومت مسئول و برخوردار از حاکمیت در سراسر قلمرو که امنیت مطمئن را به تمامی مردم تأمین نموده است، حق مشروع دارد تا از مردم افغانستان در ملل متحد نمایندگی کند.**

وزارت امور خارجه ا.ا.ا.

**برای نخستین بار در تاریخ ۴۰ ساله کشور؛ سطح تلفات به صفر رسیده است.**

محترم احمد الله وثیق معاون سخنگوی امارت اسلامی افغانستان

## د ښځو د حقوقو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین لخوا ځانګړی فرمان صادر شو

بسم الله الرحمن الرحیم

د اسلامي امارت د مشرتابه مقام ټولو اړونده مسئولینو، علماء کرامو او قومي مشرانو ته هدایت کوي چې د ښځو د لاندې حقوقو د پرځای کولو لپاره جدي اقدامات وکړي.

۱ـ د نکاح پرمهال د بالغو ښځو رضایت ضروري دی (خو چې نکاح له کفو (سیال) سره وي، د فتنې او فساد خطر هم په کې نه وي). هیڅوک ښځې په جبر او اکراه سره پرنکاح کولو نشي مجبورولای.

۲ـ ښځه مال نه، بلکې اصیل او ازاد انسان دی، هیڅوک یې چاته د صلحې په بدل (بدو) کې نشي ورکولای.

۳ـ د میړه له وفات وروسته، چې شرعي عدت (څلورمیاشتې او لس شپې یا وضع د حمل) تیر شي، کونډه ښځه نه لیور ځانته په زور نکاح کولای شي او نه بل څوک، کونډه د نکاح کولو او د خپل راتلونکي سرنوشت په هکله د خپل اختیار څښتنه ده، (خو چې د کفو (سیال) اصل او د فتنې او فساد مخنیوی په نظر کې نیول شوی وي).

۴ـ له نوي خاوند څخه د مهر اخیستل د کونډې شرعي حق دی.

۵ـ ښځه د (وفات شوي) میړه، اولاد، پلار او نورو خپلوانو په مالونو کې په فرضیت او عصبیت سره د میراث حق او ثابت سهم لري، هیڅوک یې له خپل حق څخه نشي بې برخې کولای.

٦ ـ کوم څوک چې متعدد ودونه لري، مکلف دی چې ټولو ښځوته د شرعي حکم سره سم حقوق ورکړي او ترمنځ یې عدل وکړي.

د پورته حکم د تعمیل او په ښه ډول تطبیق لپاره دې لاندې امارتي ارګانونه په خپله برخه کې اقدامات ترسره کړي.

الف: د حج او اوقافو وزارت ته پاتې برخه...۲

## ملت ته د رئیس الوزراء ملا محمد حسن اخوند وینا

نحمده ونصلي علی رسوله الکریم. اما بعد:

تر ټولو دمخه خپل ګران او ځوربدلي ملت ته خپل سلامونه وړاندې کوم. الله جلاله دې ستاسې د پلرونو، زامنو او وروڼو تکلیفونه، شهادتونه، زندانونه او هر ډول سختۍ، چې پرتاسو تېرې شوې دي، په خپل دربار کې قبولې کړي. کوم کسان چې زخمي شوي، د بدن غړي یې له لاسه ورکړې او معیوب شوي وي او ژوندي پاتې وي، د دوی تکلیفونه دې هم الله جل جلاله قبول او مقبول وګرځوي.

ګران او ځوربدلی ملته!

شل کلن تاریخ او د الله له لوري لوی امتحان پر تاسې تېر شو. تاسې او ستاسې بچیانو مجاهدینو دا شل کلن جهاد په ډېرو سختو تکالیفو، زندانونو، چاپو او قربانیو تېر کړ؛ مجاهدینو د هر څه پر وړاندې ځان سپر کړ، چې په پایله کې یې الله جل جلاله دا لوی نعمت ورپه برخه کړ.

ګران ملته! له تاسې سره مجاهدینو وعده کړې وه چې تر څو چې اشغال ختمیږي موږ به جنګیږو؛ تر څو چې دلته اسلامي حکومت او نظام راځي، موږ به جنګیږو؛ او په دې هېواد کې به داسې امنیت راولو چې د ټولو حقوق، مال او عزت به خوندي وي، څوک به چا ته ضرر نه شي رسولای - مجاهدینو په درې درو واړو وعدو د الله تعالی په نصرت وفا وکړه.

ګران او مهربان ولسه!

الحمدلله، په دې ملک کې چې څه واکداران دي، خاینان نه دي، پیسې ګټونکي نه دي چې خپل جېبونه ډک کړي؛ دا د پیسو شایقین نه دي دا هغه کسان دي چې خپل سرونه یې د اسلامي نظام راوستلو او د دې ملت لپاره د الله په لار کې وقف کړي وو.

نو اې ملته! هوښیار اوسئ.

د مخکیني نظام بعضې کسان چې په دې ملت کې پاتې دي او پټ دي داسې څرګندونې کوي پاتې برخه...۲


## د کابینې غونډه دائره شوه

د افغانستان اسلامي امارت د کابینې غونډه د رئیس الوزراء ملا محمد حسن اخوند په مشرۍ دائره شوه. غونډه چې د قران کریم په مبارکو ایتونو پیل شوه، په جریان کې یې د څو ادارو او هیئتونو کاري راپورونه واوریدل شول، دغه راز په مختلفو موضوعاتو باندې مفصل بحث او پریکړې وشوې. پاتې برخه...۲

**موږ جنګ نه غواړو له جنګونو ستړي یوو. خو که څوک مو نه پریږدي بیا یې داسې زغلوو لکه روس، لکه ناټو او امریکا.**

محترم مولوي محمد یعقوب مجاهد د ا.ا.ا. د دفاع وزارت سرپرست وزیر

*۴۵۰ تن پس از فراگیری آموزش های حرفوی نظامی از قول اردوی ۲۱۷ عمری در قندهار فارغ شدند.*




**صاحب امتیاز:** د ا.ا.ا. د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

**د اړیکي شمېره:** +93 (0) 202100633

**ایمیل:** info@gmic.gov.af

**پته:** مرمرینه ماڼۍ، بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ، کابل - افغانستان

پاتې برخه...

# ملت ته د رئیس الوزراء...

چې ټول ملت ته تشویش وراچوي، ټول ملت په خپل دې مبارک نظام شکمنوي. ډېر هوښیار اوسئ چې دښمن مو بیا یرغمل نه کړي. خدای مه کړه چې په خپل داسې مبارک نظام، امنیت او حکومت باندې بدګومانه شئ، یا په دې اړه یوه بېکاره خبره درنه وشي، الله جل جلاله به درنه ناراضه شي. پخوا به مو نه د شپې ځای و او نه د ورځې، نه د پټېدو او نه د شپې تېرېدو او نه د خوب ځای - الله جل جلاله دا ټول مشکلات حل کړل او داسې ډاډمنه فضا یې رامنځته کړه چې د شپې او ورځې آرام خوب او هوسا ژوند پکې تیرولای شئ؛ د شپې له مخې هم تګ او مزل کولای شئ او د ورځې هم. هېڅ کومه ستونزه مو پر وړاندې نشته، نه مو څوک مخې ته درېدلای شي. که د دې نعمت شکر ادا نه کړو، الله به مو په سخت‌ترین عذاب اخته کړي.

مجاهدینو او مسئولینو ته مې دا وینا ده چې پر خپل ولس رحم او ترحم وکړئ، زهیر یې نه کړې. د یتیم په سر یې د ترحم لاس کش کړه. دا هغه ولس دی چې شل کاله یې له تا سره تکلیفونه اوږه په اوږه تېر کړي، ته یې په خپله غېږه کې ساتلی یې. ته له دوی سره ښه چلند کوه، ځوره یې مه، ضرر مه وررسوه، درڅخه مه یې خوابدی کوه، خپلې دروازې دې د ملت پرمخ مه تړه. اوس که ته د دې ملت او د لوی الله بادار شکر ادا نه کړې، ای مجاهده، الله تعالی به تا ته هم سخت‌ترین عذاب درکړي.

ټولو والیانو، قومندانانو، قاضیانو او مسئولینو ته مې دا قاطع امر دی چې د ولس لپاره باید ستاسې دروازې خلاصې وي؛ که مو خلاصې نه کړې، زما دې په الله قسم وي چې د الله د رحمت دروازې به ستاسې پرمخ بندې وي. د دې مسلمان ملت او مجاهدینو خدمت وکړئ.

ما ته خبرونه رارسیږي چې په ځینو ځایونو کې یو څوک د چا کور ته واوړي، څوک د چا له دوکانه یو شی غلا کړي. فکر وکړئ، دا مجاهدین نه دي، بلکې دا توپکی دی، غل دی، دا د الله دښمن دی، د مجاهد په څېر یې ځان جوړ کړی دی. ټولو مشرانو ته مې دا امر دی (فرد وي، ډلګی مشر وي او هر څوک چې وي) که له خلکو سره په داسې خیانت ونیول شو، خالي سلاح دې شي او راپور دې حتما ضروراً ما ته اطلاع راکوي چې فلانی مو په دې جرم نیولی دی.

قاضي صاحبانو ته مې دا هدایت دی چې د خپل ولس پر مخ دې دروازې خلاصې کړي. د خلکو ستونزې په لږ وخت کې حل کوئ. که مشکلات یې ډېر وو، موږ سره دې رابطه کوي. موږ هڅه کوو چې د الله جل جلاله په کومک یې ستونزې حل کړو.

بله خبره دا ده چې ځینې کسان د ښځو حقوق ښکته او پورته کوي چې د ښځو حقوق باید پرځای شي، د بشر حقونه باید پر ځای شي او تر څو چې په افغانستان کې همه شموله حکومت جوړ نه شي، دا نظام موږ په رسمیت نه پیژنو.

ایا د بشر حقوق همدا وو چې دوی خلکو ته ورکول؟ ایا د ښځو حقوق هغه وو چې سابقه ادارې ورکول؟ الحمدلله، د ښځو حقوق خو امارت ورکړل، د ښځو عفت یې ور خوندي کړ، ابرو او عزت یې ورخوندي کړ. په ټول افغانستان کې داسې نر نشته چې د یوې ښځې عزت ته په بد نظر وګوري. اوس هم په افغانستان کې د ښځو تعلیم تر ډېره حده روان دی، او هیله من یم چې نور به هم د داسې زده کړو زمینه برابره شي. هغه ټول حقوق به ښځو ته ورکول کیږي چې په هره برخه کې الله تعالی، نبي علیه السلام او شریعت محمدي ورکړي وي.

او د افغان شموله حکومت په اړه باید ووایم: هغه حکومت چې تر موږ وړاندې و ایا دا همه شموله یا افغان شموله و؟ په یوه ځای کې دوو ادارو کار کاوه او په دواړو به خپل پلویان راټول وو. ایا دا همه شموله حکومت و او که دا اوسنی نظام همه شموله دی؟ دا قضاوت باید ولس وکړي چې د اشرف غني نظام همه شموله و او که اوسنی نظام؟

د دنیا همدا قانون دی - که هغه انتخابات وي یا بله کومه لاره - یو ګوند چې ټاکنې وګټي نو پخواني چارواکي له یوې مخې لیرې کوي او په خپل حکومت کې ورته ځای نه ورکوي، خپل خلک راولي. ښکاره ثبوت یې د امریکا اوسنی نظام دی چې پخواني چارواکي یې ټول لیرې او پرځای یې نوي کسان راغلل. د پخوانیو کسانو ټولې پریکړې یې لغوه کړې او پرځای یې خپل کارونه عملي کړل. په هره اداره کې یې خپل کسان وټاکل. ایا دا همه شموله نظام دی او که د افغانستان، چې هر قوم او هر قشر پکې ځان لیدلی شي؟

غواړم چې د ا.ا.ا په داخلي او بهرني سیاست وضاحت وړاندې کړم:

موږ ټولې نړۍ ته دا ویلي چې موږ به د نورو په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړو او له سره دا پالیسي نه لرو. په هیڅ مجلس کې ما له هیڅ مشر یا کشره دا خبره نه ده اورېدلې چې سره راټول وي او وایي راشئ په فلاني هېواد کې د ناامنۍ یا لاسوهنې په اړه مشوره وکړو. موږ د هیچا د کور او هېواد ناامنه کولو پالیسي نه لرو. سره له دې چې امریکا زموږ پر خاوره تعرض کړی و، زموږ خلک یې شهیدان کړل، موږ د دې توان درلود چې د دوی په خاوره کې عملیات ترسره کړو، خو داسې مو ونکړل. په راتلونکې کې هم نه غواړو چې چا ته ضرر ورسوو، بلکې موږ په دې هڅه او فکر کې یو چې خپله خاوره اباده کړو او خپل ولس ته خدمت وکړو. موږ خپلو ګاونډیانو او لیرې پرتو هېوادونو ته دا ویلي او وایو چې زموږ لخوا تاسې ته کوم تکلیف نه رسېدلی او نه به دررسیږي؛ موږ اوس د خپل هېواد ابادۍ او په خپلو پښو درولو ته فکرمن یو.

کوم نظام یا کوم اداري تشکیل چې زموږ له راتګ وړاندې تېر شوی او حاکم و، ځینې خلک یې تخصصي نظام بولي. خو د دې په څېر فاسد او خراب نظام به د نړۍ په تاریخ کې پیدا نه کړئ. د هغه تشکیل ډېره شکېدلې ښه درلوده. هیڅ شی یې هم منظم او مناسب نه دی یوځای کړی. هغه وزارتونه چې دوی به ورڅخه عاید درلود د ارګ چاپیره وو او ټولې پیسې به یوازې د اشرف غني په لاسلیک تللې او راتللې.

موږ د چارو د ښه مدیریت لپاره کمیسیونونه رامنځته کړي ترڅو چارې په منظم ډول وځېږي او هیڅ کومه غلطي پکې رامنځته نشي.

رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند

الحمدلله، کله چې موږ راغلي یو، موږ دې چارې ته منظم کمیسونونه رامنځته کړي تر څو د پیسو لېږد او رالېږد په منظم ډول وځېږي او هیڅ کومه غلطي پکې رامنځته نه شي. اقتصادي کمیسون مو رامنځته کړ تر څو په دې کار وکړي چې څنګه کولای شو په افغانستان کې شته بانکونه له موجوده ستونزو راوباسي او یو مناسبه حل لاره ورته پیدا کړي. په دې کمیسون کې سوداګر، د اقتصادي چارو کارپوهان او وړ متخصص کسان شته چې شپه او ورځ د افغانستان په اقتصادي مسایلو کار کوي. بل مو سیاسي کمیټه جوړه کړې چې سیاسي امور پرمخ بیایي. همدارنګه تشکیلاتي کمیټه مو رامنځته کړې چې هغه د اسلامي امارت په تشکیلاتي برخو، د مامورینو په معاشاتو او په نورو مسایلو کار کوي.

موږ شپه او ورځ په ځان یوه کړې تر څو د خلکو هغه ستونزې هوارې کړو چې زموږ له بشري توانه پوره دي. ګڼ شمېر کسان په پورته یادو شویو او نورو کمیسیونونو کې د دې هدف لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي. موږ د ولس د خدمت لپاره رسمي او غیررسمي وخت په نظر کې نه دی نیولی، بلکې تل د دوی په خدمت کې یو. له تاسو مو دا هیله ده چې د خپل اسلامي نظام ترڅنګ ودریږئ، د هېواد او اسلام دښمنانو ته دا موقع مه ورکوئ چې په خپلو منفي تبلیغاتو مو اغیزمن کړي.

په پای کې مې له ټول ولس او مجاهدینو دا غوښتنه ده چې د دې اسلامي نظام په جوړښت او پایښت کې له یو بل سره اوږه په اوږه ودریږئ او په ګډه د یوې ښې راتلونکې لپاره کار وکړئ. ټولو هېوادونو ته ډاډ ورکوم چې موږ ستاسې په کورنیو چارو کې مداخله نه کوو او له تاسو سره د ښو اقتصادي اړیکو پالل غواړو. له ټولو نړیوالو مرستندویه ټولنو مو دا هیله ده چې له افغانستانه بشري مرستې ونه سپموي او په دې سختو شرایطو کې د افغانانو لاسنیوی وکړي.

والسلام

پاتې برخه...

## د ښځو د حقوقو په اړه د عالیقدر امیرالمؤمنین...

حکم کیږي چې د ښځو د حقونو اړوند هدایاتو په هکله علماء کرام او خطیبان وهڅوي، ترڅو د خپلو خطبو او موعظو له لارې خلک پوه کړي چې له ښځو سره ظلم کول او د هغوی حقوق نه ورکول د الله تعالی د نارضایتۍ او د هغه د عذاب او قهر سبب ګرځي.

ب: د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت دې هم د خپلو وسائلو له لارې د ښځو د حقونو اړوند ترغیبي او ترهیبي ګټور مطالب په تحریري او صوتي بڼه په دوامداره توګه نشرته وسپاري، د ګټورو رسائلو تکثیر او اشاعت ته دې د فن او استعداد خاوندان وهڅوي، تر ممکنه بریده دې ځینې مهمې لنډې رسالې له خپلو وسائلو څخه په استفاده چاپوي، ترڅو د ښځو د شرعي حقوقو په هکله د علماء کرامو توجه جلب، پوهای عام او د روان ظلم مخنیوی اسانه شي.

ج: د سترې محکمې عالي مقام دې ټولو محاکموته هدایات وکړي چې ترڅو د ښځو خصوصا د کونډو د حقونو او پرهغوی د ظلمونو اړوند عریضې په اصولي ډول واخلي او په هکله یې غفلت ونه کړي، ترڅو له ظلم څخه د خلاصون او د خپلو شرعي حقونو د ترلاسه کولوپه برخه کې له مایوسۍ سره مخ نه شي.

د: والیان او ولسوالان دې د یادو وزارتونو او سترې محکمې سره د دغه فرمان د تطبیق په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي. والسلام

موږ شپه او ورځ په ځان یوه کړې ترڅو د خلکو هغه ستونزې هوارې کړو چې زموږ له بشري توانه پوره دي.

رئیس الوزراء محترم ملا محمد حسن اخوند

پاتې برخه...

## د کابینې غونډه...

د بندیانو او توقیف شویو اشخاصو وضعیت ته د پاملرنې لپاره ټولو اړوندو ادارو ته حکم وشو، چې بندیان له ټاکلې نیټې زیات بې سرنوشته ونه ساتي او دوسیې یې باید محاکمو ته راجع شي. دغه راز د هغوی اړتیاوې پوره او د حقوقو یې پوره رعایت وشي.

د سترې محکمې په مشرۍ د داخله وزارت او استخباراتو د لوی ریاست له استازو څخه متشکل هیئت ته دنده وسپارل شوه چې د ټولو حقوقي او جنایي بې سرنوشته بندیانو د دوسیو څېړنه وکړي او د شریعت په رڼا کې دې د هغوی د برخلیک معلومولو لپاره لازم اقدامات وکړي.

هغه شخصي کورونه او وسائط چې له پخوانیو چارواکو پاته دي، یا یې مالکان نه دي معلوم، د تثبیت او بیرته خپلو مالکانو ته د سپارلو لپاره یې د اداره امور د عملیاتي ادارې د مشر مولوي عبدالسلام حقاني په مشرۍ هیئت وټاکل شو چې د داخله او دفاع وزارتونو، استخباراتو، ښاروالۍ او سمع شکایاتو استازي هم په کې ګډون لري. دوی به د دغو کورونو او وسائطو دقیقه څېړنه کوي او خپلو مالکانو ته به یې سپاري.

د ځنګلونو له وهلو د مخنیوي په برخه کې د ټاکل شوي هیئت نظر او طرحه تائید شوه او هیئت ته دنده وسپارل شوه چې د عملي کار پیلولو لپاره اړوندو ولایاتو ته سفرونه وکړي او د ځنګلونو له وهلو مخنیوی وکړي. دغه راز د ځنګلونو او ونو وهلو لپاره د برقي ارو په استعمال مطلق بندیز ولګید او عاملین یې د مجازات وړ وبلل شول. د کابینې په غونډه کې د اپټا قرارداد، د مدارسو د فارغینو د اسنادو ارزیابي او نورو موضوعاتو په اړه هم بحث او مهمې پریکړې وشوې. #

په افغانستان کې اوس د پانګونې لپاره شرایط برابر شوي د سمې هېوادونه باید د اقتصادي پروژو پیل له رسمیت پېژندلو سره ونه تړي.

د ریاسة الوزراء مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر

## د خیرخواه سوداګریز مارکیټ کمپلکس پروژې جوړولو قرارداد لاسلیک شو

د خیرخواه سوداګریز مارکیټ کامپلکس پروژې د جوړولو قرارداد د افغانستان اسلامي امارت د ریاسة الوزراء مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د خصوصي سکتور استازي محمدمختار شریفي، کابل ښاروال او د ملي بانک د رئیس له لورې د ارګ په سلام خانې ماڼۍ کې لاسلیک شو.

دغو مراسمو ته محترم مولوي عبدالسلام حنفي په خپلو خبرو کې وویل، د خوښۍ ځای دی چې د افغان ملت پر زخم پټۍ ږدو. هغه زیاته کړه، پر یاده موضوع په اقتصادي کمېسیون کې بحث وشو او د کابینې له تصویب وروسته پرېکړه وشوه چې یاد مارکیټ جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي، ترڅو خصوصي سکتور د هیواد په اقتصادي وده او پرمختګ کې خپل مثبت رول ولوبوي. حنفي څرګنده کړه، د ټاپي، ټاپ، ریل پټلۍ او نوري فایبر په ګډون د سترو اقتصادي پروژو د عملي کولو په برخه کې هم له ګاونډیو هیوادونو سره خبرې روانې دي چې پر عملي کېدو سره به یې د هیواد عواید لوړ شي.

د خیرخواه سوداګریز کمپلکس د ۳۲،۸ میلیون ډالرو په ارزښت د خصوصي سکتور له لورې جوړیږي او تخنیکي چارې یې د چارو ادارې د پانګونې اسانتیا واحد مخکې وړي. یاد کامپلکس ۱۲۷۸ هټۍ، ۷۹ دفترونه، د ۱۶۸۰ موټرو لپاره پارکینګ، رسټورانټ، زرغونه سیمه او د ورزش لپاره مناسب ځایونه لري چې لومړی د ۳۰ کلونو لپاره خصوصي سکتور ته ورکول کیږي او وروسته به دولت اړوند ملکیت شي. #

تحریم ها باید خاتمه یابند و مسائل بشری از سیاسی جدا شوند.

وزارت امور خارجه ا.ا.ا.

ما به هیچ کس اجازه نمی دهیم تا تهدیدی را از خاک افغانستان متوجه منطقه و جهان نماید و در زمینه جلوگیری از کشت، قاچاق و پروسس مواد مخدر تلاش می کنیم.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

**به بانک مرکزی افغانستان دستور داده شد که حسابات بانکی مقامات حکومت به رهبری اشرف غنی رئیس جمهور مخلوع را که کشور را ترک نکرده اند، باز کند.**

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون ریاست الوزراء ا.ا.ا.

## د اسلامي امارت د وزارتونو او بېلابېلو ادارو ویندویانو ته، د زده کړییز ورکشاپ، تصدیق پاڼې ورکړل شوې

د ژورنالیزم اساساتو زده کړییز ورکشاپ، چې د اسلامي امارت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رهبرۍ لخوا د اسلامي امارت د وزارتونو او بېلابېلو ادارو ویندویانو لپاره پیل شوی وو، د تصدیق پاڼو په وېشلو پایته ورسېد.

په دغه زده کړییز ورکشاپ کې چې د یوې اونۍ لپاره ترسره شو د اسلامي امارت د وزارتونو او بېلابېلو ادارو ۱۵ ویندویانو ګډون کړی وو.

د یادو ویندویانو د تصدیق پاڼو وېش مراسمو کې د اسلامي امارت ویاند او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال، ذبیح الله مجاهد، د اسلامي امارت مرستیال ویاند، بلال کریمي، د اسلامي امارت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رهبرۍ او د رسنیو مسوولینو برخه لرله.

په پیل کې د اسلامي امارت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز سرپرست، قاري محمد یوسف احمدي، د اسلامي امارت د وزارتونو او بېلابېلو ادارو ویندویانو لپاره د ژورنالیزم اساساتو زده کړییز ورکشاپ مهم وباله او د هغه له ګډونوالو یې غوښتنه وکړه چې د ورکشاپ له زده کړو څخه په رسنیزو فعالیتونو کې ښه ګټه پورته کړي.

دغه راز هغه د اسلامي امارت د وزارتونو او بېلابېلو ادارو د ویندویانو، رسنیو د مسئولینو او خبریالانو ترمنځ د اړینې همغږۍ رامنځته کېدو غوښتنه وکړه، څو د اسلامي امارت ادارو فعالیتونه په موثق ډول او کم وخت کې تر خلکو پورې ورسېږي.

په ورته وخت کې د اسلامي امارت ویاند او د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت مرستیال، ذبیح الله مجاهد، د زده کړییز ورکشاپ په لار اچولو لپاره د اسلامي امارت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز له رهبرۍ څخه مننه وکړه او د ورکشاپ له ګډونوالو یې غوښتنه وکړه چې د یوه ویاند په حیث خپل مسئولیتونه وپېژني او تل عمل پرې وکړي.


ښاغلي مجاهد هم د اسلامي امارت د وزارتونو او بېلابېلو ادارو د ویندویانو، رسنیو د مسوولینو او خبریالانو ترمنځ د اړینې همغږۍ پر رامنځته کېدو ټینګار وکړ او له ویندویانو یې وغوښتل چې په ورځني ډول په مرکز او ولایتونو کې د خپلو ادارو اړوند اطلاعات راټول او د اړتیا په صورت کې یې له رسنیو سره شریک کړي.

په ورته وخت کې د زده کړییز ورکشاپ دوه تنه ګډونوالو ویندویانو د نورو په استازیتوب خبرې وکړې. هغوی هغه زده کړې چې په اونیزه زده کړه ییز ورکشاپ کې یې ترلاسه کړې وې، د خپلو کاري ډګرونو او مسئولیتونو لپاره مهمې وبللې او د داسې ورکشاپونو د دوام غوښتنه یې وکړه.

د ناستې په پای کې دوه تنو د رسنیو مسوولینو په استازیتوب هم خبرې وکړې او د اسلامي امارت د وزارتونو او بېلابېلو ادارو ۱۵ ویندویانو سره د معرفت ترڅنګ یې د اسلامي امارت د ویاندویانو د شمېر زیاتېدو ستاینه وکړه. هغوی د مرکز په کچه له مسئولینو څخه د اطلاعاتو ترلاسه کولو برخه کې رضایت څرګند کړ او د ولایتونو په کچه یې د اطلاعاتو برابرولو بهیر د ښه‌والي غوښتنه وکړه. #

**دحکومتي ادارو ویاندویان او ژمن خبریالان باید د ریښتینولۍ په چوکاټ کې په ګډه سره رسنیز فعالیتونه همغږې، ګړندي او لا پیاوړي کړي د قلم او ژبې عفت دې په کامله توګه وساتي، ترڅو وکولای شي دخلکو او ولس اعتماد راجلب کړي.**

محترم قاري محمد یوسف احمدي
د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس



پاتې برخه...

## د ریاسة الوزراء سیاسي مرستیال...

د ترکیې سفیر څرګنده کړه، د ترکیې پانګوال په افغانستان کې د پانګونې لېواله دي چې یو شمېر به یې په راتلونکې اوونۍ کې افغانستان ته سفر وکړي. د اسلامي امارت د ریاسة الوزرا سیاسي مرستیال محترم مولوي عبدالکبیر د افغانستان او ترکیې مناسبات لرغوني او دوستانه وبلل او زیاته یې کړه، چې ترکیه تل د متحد افغانستان غوښتونکې ده.

هغه زیاته کړه، افغانستان د ټولو هیوادونو په ځانګړي ډول د ترکیې مرستو او همکاریو ته اړ دی او موږ غواړو ترکیه په افغانستان کې لا زیاته پانګونه وکړي.

مولوي عبدالکبیر په افغانستان کې د تیکا موسسې فعالیتونه وستایل او د دغه بنسټ د لازیاتې مرستې غوښتونکی شو او زیاته یې کړه، هغه ښځې چې په بېلابېلو ادارو لکه پاسپورټ ریاست، هوایي ډګر او د روغتیا سکتور په برخو او په اکثره ولایتونو کې د نجونو په ښوونځیو کې کار کوي، فعالې دي. دغه راز به د نوې تعلیمي طرحې په بشپړولو سره په راتلونکې کال کې په ټول هیواد کې د نجونو ښوونځي بېرته پرانیستل شي. #

## د کابینې پرېکړه:

**د بندیانو او توقیف شویو اشخاصو وضعیت ته د پاملرنې لپاره ټولو اړوندو ادارو ته حکم وشو، چې بندیان له ټاکلې نیټې زیات بې سرنوشته ونه ساتي او دوسیې یې باید محاکمو ته راجع شي. دغه راز د هغوی اړتیاوې پوره او د حقوقو یې پوره رعایت وشي. د سترې محکمې په مشرۍ د داخله وزارت او استخباراتو د لوی ریاست له استازو څخه متشکل هیئت ته دنده وسپارل شوه چې د ټولو حقوقي او جنایي بې سرنوشته بندیانو د دوسیو څېړنه وکړي او د شریعت په رڼا کې دې د هغوی د برخلیک معلومولو لپاره لازم اقدامات وکړي.**

## د هېواد رغونه د ټولو ګډ مسئولیت دی



شل کاله وړاندې چې امریکا زموږ ګران هېواد اشغال کړ، هغه مهال له ټولو مهم کار د خپلواکۍ اعاده، د اشغالګرو شړل او پر وړاندې یې مبارزه وه. د اسلامي امارت په مشرۍ افغان ملت که څه هم په دغې لاره کې خورا زیاتې قرباني ورکړې؛ خو دغه چاره یې په ډېره ښه توګه سرته ورسوله او هېواد ته یې خپلواکي راوړه.

اوس چې الحمدلله هېواد ازاد او خپلواک دی، له ټولو مهم کار د هېواد بیا رغونه، پرمختګ او د نړۍ او سیمې له هېوادونو سره سیالي ده او دا کار هغه مهال شونی دی چې ټول یې په ودانولو کې برخه واخلو.

حکومت ته په کار ده چې د هېواد د ابادۍ په برخه کې چټک اقدامات وکړي، د فساد مخه ونیسي، د اقتصادي ودې لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړي او د هېواد هره برخه کې دې له قومي، سمتي او ژبنیو توپیرونو پرته پرمختیایي پروژې پلې کړي.

خو ملت هم باید په دې برخه کې دې خپلې برخې مسئولیت ته اوږه ورکړي. مسلکي او شتمن کسان دې له هېواده د تېښتې او وتلو پرځای دلته کار او پانګونه وکړي او د هېواد د ځان بساینې او اقتصادي ستونزو څخه د خلاصون لپاره ډېر کار وکړي.

موږ هغه مهال د یو پرمختللي او مترقي هېواد خاوندان کېدلی شو، چې حکومت او ملت مو په ګډه کار وکړي، ملي منافعو ته پر شخصي ګټو ترجیح ورکړو او د یو روڼ او هوسا راتلونکي په لور ګامونه واخلو. #

**د هېواد ورځپاڼې څخه په منني**

# د دې ګڼې انځور



**د کندهار عیدګاه جومات بنسټ د اسلامي امارت د تېرې واکمنۍ پر مهال د اسلام خادم امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد (رح) له لوري په کندهار ښار کې کېښودل شو.**

**دا جومات د مرکزي ګونبزې، ۲ عمومي برنډو، ۴ منارونو، ۴ برجونو، د احاطې دیوال، د اوبو ذخیرې، د برق سیستم او د ۴ تخنیکي اتاقونو په درلودلو؛ اسلامي معماري سبک ته په کتو جوړ شوی دی.**

وزیرانو شورا:

## د شاه و عروس بند د چارو تکمیل لپاره دې اقدامات وشي

د کابینې په غونډه کې د لویو زیربنایي پروژو د کار د دوام په اړه له بحث وروسته د اوبو او انرژۍ وزارت ته دنده وسپارل شوه چې د شاه و عروس بند د چارو د تکمیل لپاره دې عاجل اقدامات وکړي ترڅو یې پاتې کارونه ترسره او د ابیارۍ او انرژۍ د تولید په برخه کې د استفادې وړ وګرځي.



د شاه و عروس بند رغنیز کار پای ته رسیدلی او ډېر ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. دا بند د کابل ولایت په شکردرې ولسوالۍ کې ده چې د ۹.۳ میلیون متر مکعب اوبو د ذخیرې او د ۱.۵ میګاواټ برېښنا تولید ظرفیت لري.

## د کابینې پرېکړه:

**هغه شخصي کورونه او وسائط چې له پخوانیو چارواکو پاته دي یا یې مالکان نه دي معلوم، تثبیت او له دقیقې څېړنې وروسته خپلو مالکانو ته دې وسپارل شي.**